
مسير
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې اوومه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۶مه | ۶۷۰یمه گڼه

## ځېره

۴ مخ

### جو بايډن



بايډن د ښوونځي دورې پر مهال ډېر تنبل و او د پوهنتون دوره کې يې هم چنداني خوند نه و. هغه په ۸۵ زده کوونکو کې ۷۶م نمره و؛ خو له پرله‌پسې هڅو او کوښښونو وروسته يې دا دي نوې د ولسمشرۍ لوړه وکړه.

## کرنې وزارت: په ننگرهار کې د ۱۱۲ میلیونو افغانيو په لگښت ۲۰ کانالونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول



کرنې وزارت وايي، په ننگرهار کې د ۱۱۲ میلیونه افغانيو په لگښت د اوبولگولو ۲۰ کانالونه گټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د اوبو لگولو يادې پروژې د دغه ولايت په مرکز او ۱۷ ولسواليو کې د کرنې وزارت په گډون، د کرنې او مالدارۍ پروژې، د کرنې د ودې او کليوالي پراختيا پروژې او دغه راز له دويم ملي لومړيتوب څخه د ملاتړ پروژو له خوا د ۱۱۲ میلیونه افغانيو په لگښت پلې شوې دي.

د سرچينې په خبره، د اوبو لگولو يادې پروژې څه باندې ۱۲ زره او ۵۰۰ جريبه ځمکې خړوبوي او د اوبو د نږدې ۲۰ سلنې ضايعاتو مخه نيسي.

د اوبو لگولو د دغو پروژو په پرانيستغونډه کې د کرنې وزير وويل، چې اوبولگول د کرنې وزارت له کليدي سکټورونو څخه دی او هر کال د ننگرهار په گډون په بېلابېلو ولايتونو کې د اوبولگولو ډېرې پروژې پلي کېږي.

# د فساد اوج ، تورونه او دسيسې؛

## ارغنديوال: په ارگ کې مې د ځينو کړيو فرمايشونه نه منل، ځکه يې له دندې لرې کړم



۳

### د ارگ ځانگړې کړۍ؛ د چور او تالان چيغې

۲ مخ

### په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت

۲ مخ

### چین کشوری که اقتصاد آن در جهان سایه افکنده است

۳ مخ

## ستانکزی: له طالبانو سره په خبرو کې اوربند او اغېزناک مذاکرات مو لومړيتوبونه دي

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مذاکراتي پلاوي مشر محمد معصوم ستانکزی وايي، له طالبانو سره په خبرو کې اوربند او اغېزناک مذاکرات يې لومړيتوب دی.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت د معلوماتو په اساس، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مذاکراتي پلاوي مشر دغه څرگندونې په دوحه کې د محمديه علماوو سازمان له رييس او د اندونيزيا د ولسمشر له پخواني مرستيال يوسف کالا سره د ليدنې پرمهال کړې دي. ياد وزارت د محمديه علماوو سازمان د مشر په وينا ويلي: «په يوه اسلامي ټولنه کې د تاوتريخوالي دوام د سولې بهير تر پوښتنې لاندې راولي.»

کالا تمه ښودلې چې دواړه مذاکره کوونکي لوري د اوربند په کولو سره او د رغندو مذاکراتو له لارې سوله او امنيت تامين کړي. په اعلاميه کې راغلي چې معصوم ستانکزي د کالا د خبرو هرکلی کړی او زياته کړې يې ده: «اوربند او اغېزناک مذاکرات د افغانستان اسلامي جمهوريت د پلاوي يو لومړيتوب دی.» ستانکزي د سولې په مذاکراتو کې د اندونيزيا د رغنده رول مننه کړې او د افغان سولې له بهير سره يې د هغه هېواد د همکاريو پر دوام ټينگار کړی دی. په ورته مهال په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند ډاکتر محمد نعيم هم ويلي، چې د دوی د سياسي دفتر مشر هم په دوحه کې د اندونيزيا د پخواني مرستيال ولسمشر سره په ليدنه کې د افغان سولې بهير په اړه خبرې کړې دي.

بلخوا ارگ وايي، چې ولسمشر غني ورمه شپه د ملي مصالحې عالي شورا له مشر ډاکتر عبدالله سره په ارگ کې د ليدنې پرمهال د سولې بهير د وروستيو پرمختگونو په اړه خبرې کړې دي.

## سيگار: له حامد کرزي نړيوال هوايي ډگره بهر ته د پيسو د قاچاق دوام، د جدي انديښنې وړ دی



۵ مخ

## رئیس جمهور: فصل تازه در مناسبات کابل با واشنگتن باز شده‌است



رئیس‌جمهور غنی  در نشست دیروز کابینه گفته است که یک فصل تازه در مناسبات کابل با واشنگتن باز شده‌است و امریکا، افغانستان را همچون شریک بنیادی‌اش می‌داند.

او تأکید کرد که امریکا توافقنامه شان با طالبان را به‌گونۀ سریع بررسی می‌کند و پس از بررسی‌ها، حکومت امریکا برای دست‌یابی به یک نقشۀ راۀ مشترک دربارۀ این توافقنامه با کابل نیز، مشوره خواهد کرد.


او افزود: «یک فصل نو در مناسبات ما با شریک عمدۀ ما ایالات متحده امریکا باز شده‌است که دوام می‌کند. شکل مناسبات ما در سطح عالی دولت با دولت خواهد بود.»

او می‌افزاید: «یک بررسی سریع قرارداد امریکا با طالبان از طرف شورای امنیت امریکا صورت خواهد گرفت و بعد از آن یک مشورۀ اساسی همراه ما صورت خواهد گرفت.»

اما محمدنعیم، سخن‌گوی هیئت مذاکره‌کنندۀ طالبان می‌گوید که این گروه به عملی شدن تعهدات‌اش در توافقنامۀ دوحه متعهد است و تأکید می‌کند که اگر هدف از حکومت تازۀ امریکا دریافت اطلاعات دربارۀ این توافقنامه باشد، این گروه مشکلی ندارد.

او افزود: «ما به تعهداتی که در توافقنامه نموده‌ایم، به آن ملتزم می‌باشیم و از جانب مقابل هم می‌خواهیم که به تعهدات خویش ملتزم باشد.»

انتظار می‌رود که در میانه‌های ماه آیندۀ میلادی موضع امریکا دربارۀ روند صلح افغانستان و نیز چگونگی حضور سربازان ناتو در یک نشست وزیران دفاع ناتو، مشخص شود.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د ارگ ځانگړې کړۍ؛ د چور او تالان چيغې

د امريکا ځانگړې پلټونکې اداري يا سيگار ويلي چې د حامد کرزي له نړيوال هوايي ډگر څخه د VIP پروازونو له لارې نغدې پيسې ايستل کېږي. سيگار په دې اړه د اندېښنې تر څنگ د هغو ځانگړو ماشينونو او وسايلو پر استعمال ټينگار کړی، چې په هوايي ډگرونو او بندرونو کې د نغدو پيسو د قاچاق د مخنيوي په خاطر نصب شوي دي.
تر دې وړاندې د حزب اسلامي مشر گلبدين حکمتيار هم ويلي وو چې د بې‌نښانه الوتکو په وسيله د حامد کرزي له نړيوال هوايي ډگر نغدې پيسې او قيمتي توکي له هېواد څخه بهر لېږدول کيږي.
ويل کېږي چې په ارگ کې يوه ځانگړې کړۍ چې پکې لوړ پوړي چارواکي شامل دي، د دغو کړنو تر شا ده. دا کړۍ يوازې دا هم نه کوي، بلکې په واقعي مانا ټول حکومت د دې کړۍ په لاس کې دی. د ماليې گوښه شوي وزير عبدالهادي ارغنديوال هم ويلي چې په ارگ کې يوې ځانگړې کړۍ يې په چارو کې لاسوهنه کوله، په گمرکونو کې يې د خپلو رييسانو مقررول غوښتل او له همدې کړۍ سره ټکر د دې سبب شو چې نوموړی له دندې گوښه شي.
د اشرف غني په مشرۍ دا اداره په تدريجي ډول د حکومت له بنې واوښته او اوس پکې چارې د يوه شخصي شرکت په شان پر مخ وړل کېږي. سره له دې چې دلته د اساسي قانون په گډون ډېر نور قوانين شته، خو واقعيت دا دی چې دلته په ارگ کې د يوې کړۍ زور تر قانون زيات دی او هر څه چې دوی وغواړي هغه به کېږي. د اساسي قانون له مخې وزيران؛ ولسمشر او ولسي جرگې ته ځواب ويونکي دي، خو اوس بايد وزيران په ارگ کې همدې کړۍ ته کېني، ريپوټ او حساب ورکړي او د دوی اوامر عملي کړي.
همدا کړۍ ده چې ټول حکومت يې انحصار کړی دی او همدوی دي چې بهر ته د نغدو پيسو په لېږد او ډېرو نورو ناقانونه کړنو کې ښکېل دي. په دې حکومت کې چې هره ناقانونه کړه کېږي، غلا کېږي، لوټ کېږي، گومارنې کېږي او يا هم څوک عزل کېږي؛ سرچينه يې همدې کړۍ ته ور گرځي چې د اشرف غني پر شاوخوا را گرځېدلې ده.
په دې کړۍ کې محدود شمېر کسان دي او ټول يې له بهره راغلي دي چې د بل هېواد تابعيت هم لري. ښکاري چې دوی يوازې د همدې لپاره راغلي دي چې دلته چور، چپاول او غلا وکړي او بيا يې خپلو اصلي وطنونو ته يوسي. که دوی څوک په دولت کې گوماري او يا يې گوښه کوي، لامل يې يوازې همدا دی چې دوی ته د لا زياتې غلا، چور او چپاول زمينه برابره شي. اوس چې بيا دا خبره کېږي چې ښايي ژر د سولې د خبرو په پايله کې يو نوی حکومت رامنځ ته شي، نو دوی فکر کوي چې وخت يې کم دی، ځکه يې غلا له حده زياته کړې ده او را ټولې کړې پيسې په ځانگړو الوتکو کې بهر ته لېږدوي.
حيرانوونکې دا ده چې ټول خلک دا کړۍ پېژني او ورته گوري چې دوی څه ډول چور او تالان روان کړی دی، خو هېڅوک ترې د پوښتنې نشته. زموږ عدلي او قضايي ارگانونه دوی ته تسليم شوي، ولسي جرگه چېغې وهي، خو څوک يې غږ نه اوري، مشرانو جرگه په انتصابي سناتورانو او د ارگ په لاسوهنو بې‌مانا شوې ده او هېڅوک نشته چې د دې چور او تالان مخه ونيسي. له همدې چور او تالان ښکاري چې د دغو کړيو د واکمنۍ وروستۍ ورځې دي، خو ولس او ټول هغه اړخونه چې پر دې ولس درديږي، بايد د دې چور او تالان مخه ونيسي او پرې نه ږدي چې لا مو شتمنۍ لوټ او بهرنيو هېوادونو ته انتقال شي.

# په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت

فضل محمود علی

**وروستۍ برخه:**
**د خبرو اترو په جريان کې ډزبندي**

د سولې د خبرو اترو په پای کې د يو گډ او دواړو لورو ته د منلو وړ تړون تر رامنځته کېدو وروسته اوربند لازمي دی، خو د سولې خبرو په جريان کې اوربند شونی دی؟ د سولې خبرو په کوم پړاو کې به اوربند تر ټولو زيات مؤثر او اغېزناک وي؟ له تاريخي پلوه د سولې مذاکراتو په لړ کې تر ټولو بريالی اوربند هغه وخت رامنځته کېدای شي، چې د دواړو ډلو تر منځ پر هغو مهمو سياسي اختلافاتو تر يوې کچې هوکړه وشي، کوم چې د جگړې اصلي لاملونه گڼل کېږي. خو دا په دې مانا نه ده چې افغان دولت او طالبان دې د هر اختلاف په اړه موافقې ته سره ورسېږي، د دواړو لورو لخوا پر يوه عمومي فارمول هوکړه کولای شي دوی وهڅوي څو جگړې ته د پای ټکی کېږدي. دا کار بايد يوازې له دې امله ونشي چې دغه ډول ډزبندي به اوږدمهاله وي، بلکې په دې خاطر هم اړين دی څو يو وروستي تړون ته رسېدل او له لسيزو راهيسې د روانې اوږدې جگړې پای يقيني او حتمي کړي.
په حقيقت کې د دواړو لورو تر منځ د روانې جگړې او د حل په اړه يې عمومي تفاهم کولای شي له دوی سره مرسته وکړي، چې دا خبره درک کړي چې د جگړې پر ځای د خبرو له لارې د ستونزې حل غوره او گټوره ده! له دې لارې شونې ده چې دواړه لوري په رښتينې توگه يو گډې همغږۍ ته د رسېدو لپاره وهڅول شي او د جگړې وسوسې له منځه يوړل شي. همدارنگه د اوربند په لړ کې به افغان دولت او طالبان وکولای شي چې په ارامه فضا کې د سولې تړون د تفصيلاتو په اړه غور وکړي. پر دې سربېره، د دوامداره او منل شويو حللارو د موندلو لپاره به د افغان دولت، طالبانو او نړيوالې ټولنې تر منځ د همکارۍ اړيکې ځواکمنې کړي.
تاريخي شواهد دا ښيي چې د ښکېلو ډلو لخوا د مهمو سياسي ستونزو په اړه له موافقې او هوکړې وروسته اوربند ډېر اغېزمن و، نسبت دې ته چې له وخت وړاندې تر سره شي. د بوسنيا جگړه (۱۹۹۲-۱۹۹۶) د ملگرو ملتونو په مرسته د بېلابېلو اوربندونو شاهده وه، خو يادو اوربندونو نه يوازې دا چې د موخې په تر لاسه کولو کې کومه مرسته ونه کړه، بلکې د اوربند موده به د ښکېلو ډلو لخوا د اکمالاتو او د جنگياليو د روزلو او گومارلو لپاره کارول کېده، چې په پايله کې به جگړې لا هم زور واخيست. د بوسنيا د جگړې په جريان کې د بوسنيا، کروشيا او يوگوسلاويلا (په ټوله کې بوسنيايي سربيانو نژاد) د بهرنيو چارو وزيرانو د لومړي ځل لپاره په جينوا او بيا ځلې د ۱۹۹۵ کال د سپټمبر په مياشت کې په نيويارک کې سره وکتل. دوی د نورو قضيو تر څنگ په بوسنيا کې د سولې لپاره په يوه بنسټيز پرنسيب هوکړه وکړه. هغه دا چې بوسنيا به خپل عادي سرحدونه ساتي، خو د هېواد په دننه کې به يې دوې برخې پر خپل ځای وي: د سرب جمهوريت (۴۹٪ سيمه) او د هرزگوين او بوسنيا فدراسيون (۵۱٪ سيمه). يوه اونۍ وروسته د شپېټو ورځو د اوربند تړون لاسليک شو، چې په تعقيب يې د ۱۹۹۵ کال د نومبر په لومړۍ نېټه په ډيټون اوهايو کې د سولې پراخې خبرې اترې پيل شوې. د جينوا او نيويارک د ناستو په پايله کې رامنځته شوې خبرې د ۱۹۹۵ کال د ډسمبر په ۱۴مه د سولې پر تړون بدلې شوې.
اوس نو مهمه پوښتنه دا ده چې د بوسنيا د جگړې وروستی اوربند ولې بريالی شو چې په پايله کې يې يو تړون رامنځته شو، حال دا چې نور اوربندونه د بريا څوکې ته ونه رسېدل؟ لنډ ځواب به دا وي چې ښکېلو ډلو لومړی په عمومي فارمول باندې هوکړه وکړه او بيا يې اوربند تر سره کړ. دا عمومي فارمول لومړی ځل په جينوا او نيويارک کې رامنځته شو، چې وروسته يې د وروستۍ هوکړې ته د رسېدو په موخه پايداره اوربند او پراخو خبرو اترو ته لار هواره کړه. تر ټولو مهمه دا چې د دواړه لوريو تر منځ د مخالفتونو د حل په تړاو يو عمومي تفاهم او همغږي رامنځته شوه او په دې وپوهېدل چې ستونزه د خبرو له لارې حل کېدای شي. همدا لامل و چې اوربند هم دوامداره او بريالی و.
د بوسنيا د جگړې په شان د نېجر هېواد د تورگ بغاوت (۱۹۹۰-۱۹۹۵) هم د څو اوربندونو شاهد و، خو يوازې يو يې د سولې تړون لامل شو. د اير او ازاوک د ازادۍ غوښتنې د مبارزې ډلې (FLAA) په ۱۹۹۱ کال کې د نجيريايي حکومت پر وړاندې پاڅون وکړ او د فدرالي سيستم، غوره کورواکي او د اقتصادي وضعيت د ښه والي لپاره يې مبارزه پيل کړه. د جگړې په کلونو کې د سولې خبرې په مسلسل ډول تر سره شوې او له امله يې ځينې ناکام اوربندونه تر سره شول چې تر ډېره يې د ناکامۍ علت له اوربند وړاندې په بنسټيزو سياسي مسائلو د هوکړې نشتون و، کوم چې د جگړې اصلي لاملونه گڼل کېدل. په ۱۹۹۴ کال کې د نيجريايي حکومت او د تورگ باغيانو په استازيتو د (CRA) تر منځ د خبرو تازه لړۍ پيل شوه. د پخوانيو خبرو اترو خلاف دا ځل نيجريايي دولت د تورگ سيمو د ځان واکۍ غوښتنه ومنله کومه چې د بېلتون غوښتونکو بنسټيزه غوښتنه وه او په دې سره موافق شول چې دا سيمه به د ټاکل شويو واليانو او شوراگانو له لوري اداره کېږي، له دې توافق وروسته اوربند رامنځته شو څو د پراخو خبرو اترو لپاره لاره هواره شي.
د وړاندېنيو مذاکراتو پر خلاف د وروستيو خبرو اترو په پايله کې دواړه لوري په دې وتوانېدل، چې د جگړې د يوې بنسټيزې مسئلې په اړه عمومي تفاهم ته ورسيږي. اوربند د پراخو مذاکراتو تر پايه دوام وکړ او دواړې ډلې وتوانېدې چې د تورگ په سيمو کې د شوراگانو د ټاکنو، امنيت، د اغېزمنو سيمو بيا ودانولو او د کډوالو بيا راستنېدلو په اړه توافق ته ورسيږي. په پای کې د ۱۹۹۵ کال د اپرېل په ۲۴مه د نيجريايي حکومت او د پاڅون کوونکو تر منځ (چې د CRA او FLAA لخوا يې استازيتوب کېده) د سولې يو ټولييز تړون لاسليک شو.
د بوسنيا په څېر په نيجر کې هم ټول اوربندونه مخکې له دې چې دواړې خواوې د شخړې بنسټيزو مسلو ته حللاره پيدا کړي، ناکام شول. کله چې ښکېلو خواوو د شخړې د اصلي مسلو د حل لپاره گډ ټکي وموندل، بيا په جکړه کې لږ ځنډ هم د تفصيلي خبرو اترو لپاره د ارامې فضا په چمتو کولو، د دوه اړخيز توافق او د جگړې د وروستي حل لپاره اغېزمن ثابت شوی دی.
که څه هم تاريخي شواهد ښيي چې د عمومي فارمول يا د جگړې د بنسټيزو مسئلو لپاره حل موندل د اوربند د غځولو سبب کېږي؛ مگر په غوڅ ډول نه شو ويلی چې دا دې يوازينی فکټور وي چې د اوربند برخليک ټاکي؛ بلکې نور عوامل يوازې په ترکيبي شکل د اوربند برخليک ټاکي. د بېلگې په ډول، د اوربند د قوي منځگړي يا ضامن شتون، يا د داسې حالاتو شتون چې په هغه کې يو لوری هم د جگړې گټونکی او بايلونکی نه وي.
بالاخره د موزمبيق قضيه داسې سناريو وړاندې کوي چېرته چې اوربند يوازې هغه وخت پلې شو کله چې دواړې ښکېلې خواوې د سولې جامع هوکړې ته ورسېدې. په لومړيو کې د موزمبيق د حکومت ټينگار په دې و چې اوربند دې په مهمو سياسي مسئلو باندې له خبرو اترو مخکې پلی شي. له بلې خوا پاځون کوونکو تر هغې پورې د وسلو له اېښودلو څخه انکار وکړ، څو چې خبرې اترې د سولې ټوله‌ييزې هوکړې ته نه وې رسېدلې. په پای کې حکومت د ناوړه بنُبست له وېرې د دوی غوښتنې ته غاړه کېښوده چې په پايله کې يې خبرو اترو او جنگ په يو وخت دوام وموند. په حقيقت کې د جگړې دوام د خبرو اترو د بريا لپاره خورا مهم ثابت شو، هر څومره چې د تاوتريخوالي شدت ډېرېده ښکېلو خواوو د مذاکراتو په ميز د نورو امتيازاتو ورکولو ته زړه ښه کاوه. د تاوتريخوالي دوامداره شدت د دې لامل شو چې د جگړې دواړې خواوې ژر تر ژره جوړ جاړي ته چمتو شي او په پای کې يوې وروستۍ هوکړې ته سره ورسېدل.
په کره توگه هيڅوک نه شي ويلای چې په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت به کوم وي؟ مگر دا بايد له تاريخي پېښو څخه زموږ د زده کړې مخه ونه نيسي. په يوه خبره چې ښايي موږ ټول پرې همغږي واوسو، هغه دا ده چې د اوربند د وخت معلومول په افغانستان کې د ښکېلو خواوو لپاره اسانه پرېکړه نه ده؛ ځکه لومړی دا چې د سولې له خبرو څخه مخکې پر اوربند موافقه کول به په لنډه توگه د خلکو ژوند وژغوري او د تاوتريخوالي مخه به ونيسي؛ مگر دا امکان هم شته چې هېواد به بېرته جگړې ته ستون او په پايله کې به لا زياتو تلفاتو او تباهۍ ته زمينه برابره شي. دويم دا چې د اوس لپاره د يو داسې جوړجاړي لپاره د قربانيو منل مهم دي، کوم چې دا جکړه يو ځل د تل لپاره ختمه کړي. له وختە مخکې د اوربند يو بل خطر لکه د قبرس په قضيه کې چې وليدل شو دا دی چې د جگړې ودرېدل پرته له کوم واقعي جوړجاړي به ښکېلې خواوې پر داسې وضيعت اخته کړي، چې رښتينې هوکړه به ورته يوه خيالي کيسه معلومه شي.
تاريخ ثابتوي چې د سولې له خبرو څخه دمخه اوربند کول بل څه نه؛ بلکې د جگړې دواړو خواوو ته زمينه برابروي چې بېرته خپل جنگيالي د لا شديد جنگ لپاره تقويه کړي. د شمالي ايرلينډ له يوازينې کامياب اوربند څخه دا معلومه شوه چې په سياسي مهمو موضوعاتو له خبرو اترو مخکې اوربند هغه وخت کاميابېږي کله چې نور مهم شرايط مساعد وي. له دغه مثال څخه معلومېږي چې د سولې له خبرو څخه دمخه له اوربند کولو څخه ښه پايله هغه وخت تر لاسه کېدای شي، کله چې دواړې خواوې په داسې بنُبست کې واقع شي چېرته چې د جگړې اصلي گټونکی او بايلونکی معلوم نه وي او د خبرو اترو له لارې جوړجاړی له جگړې غوره معلوم شي.
ورته نورې قضيې دا جوتوي چې لومړيتوب بايد حقيقي او رښتينی جوړجاړی وي او د مهمو سياسي مسئلو په اړه له خبرو اترو مخکې سمدستي اوربند کوم لازمي کار نه دی. البته د افغانستان په شخړه کې د ښکېلو خواوو لپاره يوه سخته او ستونزمنه پرېکړه ده چې له اوربند څخه مخکې خبرې اترې پيل کړي. په حقيقت کې بنسټيز اخلاقي او اسلامي اصول دا موږ ته په ښکاره توگه څرگندوي، چې د هر وگړي ژوند مهم دی او بايد له خطر سره مخ نه شي. په هر حال، په لنډمهال کې د تلفاتو کچه بايد د اوږدې جگړې د ويجاړۍ او ځانې تلفاتو سره پرتله شي. تجربو ښودلې ده چې لنډمهاله اوربند او په موقت ډول د وژنو او ويجاړيو مخنيوی په حقيقت کې پيل شوې جگړې ته لا شدت ورکوي، اوږدوي يې او د رښتينې جوړجاړي لاس ته راوړل ځنډوي (لکه د بوسنيا او لابيريا قضيې). له وخت څخه مخکې اوربند جنگياليو ته مهلت ورکوي چې خپل ځواکونه له سره تنظيم کړي. په مهمو سياسي مسئلو د يوې اجماع له رامنځته کېدو مخکې له وخت څخه اوربند به ښايي د جگړې د لا زياتېدو لامل شي او دخبرو اترو د هوارۍ چانس به کم کړي.
له دې امله افغان دولت، طالبان او نړيوالې ټولنې ته مشوره دا ده چې د بين الافغاني خبرو پر مهال له هغه وروسته چې ټولې خواوې پر مهمو سياسي مسئلو يوې اجماع ته سره ورسيږي، د جگړې مخه ډب کړي. له تاريخي قضيو په زده کړې، داسې برېښي چې په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت هغه دی کله چې مذاکره کوونکي ټيمونه په مهمو سياسي مسايلو لکه د راتلونکي نظام د څرنگوالي، د واک وېش او نورو په اړه يو جامع اتفاق ته سره ورسيږي. دا به افغان دولت او طالبانو ته ډېره اسانه وي چې لومړی خبرو اترو ته يو عمومي حللاره پيدا کړي او بيا جکړه ودروي او بالاخره يوې نهايي موافقې ته ورسيږي.
کله چې دواړې خواوې د جگړې او د حللارې په اړه يې عمومي هوکړې ته ورسېدل، نو بيا د نهايي جوړجاړي په اړه د خبرو اترو مسئله اسانه کېږي. دا ډول درک لرل به دواړې خواوې دې ته وهڅوي چې د بين الافغاني خبرو اترو په ترڅ کې وسلې پر ځمکه کېږدي او دا کار به په خپل وار سره وروستۍ هوکړې ته د رسېدلو لپاره مناسب چاپېريال برابر کړي.
**پای**

# چین کشوری که اقتصاد آن در جهان سایه افکنده است

منبع: اکونومیست
نویسنده: جی مارتین
مترجم: سید جمال اخگر

طی ده ماه گذشته بیشتر مردم کشورهای ثروتمند در بزرگ‌ترین «انقلاب خرید» در غرب شرکت کرده‌اند. کرونا منجر به افزایش خرید آنلاین شده و سرعت انتقال از فروشگاه‌های فیزیکی را حدود نیم‌دهه تسریع کرد. دودکش را فراموش کنید؛ هدایای کریسمس در سال ۲۰۲۰ یا از طریق صندوق‌پست می‌رسیدند یا دم دروازه تسلیم داده می‌شدند. کارگران در تعدادی از شرکت‌ها، از جمله آمازون و المارت، با تلاشی فوق بشری توانستند سفارشات آنلاین را تسلیم دهند و سرمایه‌گذاران این شرکت‌ها فوق‌العاده سود کردند.

با این حال، این چین است، نه غرب که آینده تجارت الکترونیک در آن رقم می‌خورد. بازار چین به مراتب بزرگ‌تر و خلاقانه‌تر است. شرکت‌های فناوری تجارت الکترونیک، رسانه‌های اجتماعی را با هم ادغام می‌کنند تا به یک مرکز خرید آنلاین برای ۸۵۰ میلیون مصرف‌کننده دیجیتل تبدیل شوند.

چین همچنین در مقررات پیش‌رو است، با خبری در ۲۴ دسمبر که معتمدین در حال تحقیق در مورد علی‌بابا بودند که توسط «جک ما»، مشهورترین شرکت سرمایه‌داری بزرگ چین تاسیس شد و تا چند هفته پیش در فهرست باارزش‌ترین شرکت‌ها بود.

یک قرن است مشاغل مربوط به مصرف‌کنندگان در جهان به‌دنبال پیروی از ترندهای جدید امریکا بوده‌اند، از بارکد قابل اسکن بر روی ساقچ‌های «وریگلی» در دهه۱۹۷۰ گرفته تا تعقیب عادات مصرف کارداشیان در سال ۲۰۱۰ اکنون آن‌ها باید به شرق نگاه کنند.

پیش‌روی چین در تجارت الکترونیکی چندان هم تازه نیست. از نظر اندازه، بازار آن در سال۲۰۱۳ از امریکا پیشی گرفت - با کمبود فضای انبار در دنیای واقعی، مصرف کنندگان و پرچون‌فروشان به دنیای دیجیتل هجوم بردند. وقتی علی‌بابا در سال ۲۰۱۴ وارد کار شد، بزرگ‌ترین ابتکار عملی بود که به جهان عرضه شد. امروز بازار خرده‌فروشی الکترونیکی این کشور ۲ میلیارد دالر ارزش دارد، بیش از مجموع بازارهای امریکا و اروپا؛ اما فراتر از وسعت آن، چین از چندین روش اساسی متمایز نسبت به صنعت در غرب استفاده می‌کند.

این صنعت شروع خوبی داشته است. در چند سال گذشته رقبای جدیدی از جمله «پیندودو» و «میتوان» با مدل‌های تجاری پرظرفیت به میدان آمده‌اند. یکی از نشانه‌های رقابت شدید این است که سهم علی‌بابا از بازار سرمایه صنعت تجارت الکترونیکی چین از ۸۱٪ به ۵۵٪ کاهش یافته است. رقابت همچنین باعث شده تجارت الکترونیکی و سایر شرکت‌های فناوری مرزهای بین انواع مختلف خدمات را که هنوز در غرب رایج است، از بین ببرند. یک اشاره و کلیک و کار تمام است: سیستم عامل‌های خرید آنلاین در چین اکنون پرداخت‌های دیجیتل، معاملات گروهی، شبکه‌های اجتماعی، بازی، پیام‌رسانی فوری، فیلم‌های کوتاه و مشاهیر پخش زنده را با هم ترکیب می‌کنند.

**سوال واضح و چندهزار میلیارد دالری این است که آیا مدل تجارت الکترونیکی چینایی جهانی می‌شود؟**

طبق روال معمول دهه‌های متوالی، غول‌های «دره سیلیکون» هنوز هم قصد دارند چین را دست کم بگیرند. ارتباط مستقیمی بین صنایع تجارت الکترونیکی امریکا و چین وجود دارد. شرکت‌های غربی مدت‌هاست که در کنج دنج و امن خود جا افتاده‌اند. بنابراین متخصصان «ویزا» در بخش پرداخت، «آمازون» در تجارت الکترونیکی، «فیس بوک» در رسانه‌های اجتماعی، «گوگل» در جستجو و ... تخصص دارند. اصلی‌ترین دلیل عدم اطمینان در تجارت الکترونیکی این بوده است که بسیاری از پرچون‌فروشان بزرگ سنتی از بین می‌روند، بیش از ۳۰ برابر آن‌چه در سال ۲۰۲۰ در آمریکا از بین رفت و این‌که آیا ممکن است تعداد معدودی از خرده‌فروشی‌ها به روش و المارت و تارگت این انتقال به دنیای آنلاین را مدیریت کنند یا نه.

با این وجود این‌که خرده‌فروشی الکترونیکی غربی ایمن است و ظرفیت بالایی دارد، اکنون بعید به نظر می‌رسد که به شیوه اصلی خرید در جهان تبدیل شود. در حال حاضر، در خارج از کشورهای ثروتمند، رویکرد چین توجه را به خود جلب کرده است. بسیاری از شرکت‌های تجارت الکترونیکی پیشرو در جنوب شرقی آسیا (گرب و سی)، هند (جیو) و امریکای لاتین (مرکادو لیبر) تحت تاثیر استراتیژی چین در ارائه «سوپراپلیکیشن» است که خدماتی را از تحویل رشته فرنگی گرفته تا خدمات مالی پوشش می‌دهند. شرکت‌های عظیم کالاهای مصرفی که در بازارهای غربی و چین قرار دارند، نیز ممکن است ایده‌ها و تاکتیک‌های تجاری چینایی را پیاده کنند. شرکت‌های چند ملیتی مانند «یونیلور»، «ل.اریل» و «آدیداس» در آسیا درآمد بیشتری نسبت به آمریکا دارند و روسای آن‌ها برای دیدن آخرین بازاریابی دیجیتال، مارک تجاری و تدارکات به آن‌جا مراجعه می‌کنند، نه به کالیفرنیا یا پاریس.

در حال حاضر، ویژگی‌های بازار الکترونیک چینایی در مناطق خرده‌فروشی در قلب غرب راه یافته که بخشی از آن در نتیجه پاندومی است. با متنوع‌سازی شرکت‌ها، انبارها در حال نابودی استند. فیسبوک اکنون در حال تبلیغ خدمات خرید در شبکه‌های اجتماعی خود و «تجارت اجتماعی» است، از جمله پخش مستقیم و استفاده از واتساپ برای پیام‌رسانی بین بازرگانان و خریداران.

در دسمبر، و المارت میزبان اولین رویداد خرید زنده خود در تیک‌تاک، یک برنامه ویدیویی متعلق به چینایی‌ها بود که امیدوار است در آن سهام خریداری کند. در فرانسه در سه ماه گذشته ششمین برنامه بارگیری‌شده در زمینه تجارت الکترونیکی «وُوا» بود که به بنیان‌گذار «پین دودو» مرتبط بود. احتمال دارد سرانجام تازه‌واردان در آمریکا پیشرفت کنند. قیمت سهام «شاپیفای»، پلتفرمی برای شرکت‌های جدا شده از آمازون و شرکت‌های کوچک، به قدری افزایش یافته است که اکنون بیش از ۱۴۰ میلیارد دالر ارزش دارد.

این تغییر جهت به سمت صنعت جهانی به سبک چینایی نویدبخش خبرهای خوبی برای مصرف‌کنندگان است. قیمت‌ها پایین‌تر خواهد آمد، زیرا چین شاهد تخفیف شدید شرکت‌های رقیب خواهد بود. احتمالاً انتخاب و نوآوری رشد خواهد کرد.

در غرب وحشی، کلاه‌برداری رواج بیشتری دارد. و نگرانی‌هایی نیز درمورد ضد انحصاری‌شدن وجود دارد. شاید وسوسه شویم که سرکوب آقای «ما» را فقط نمایش قدرت وحشیانه حزب کمونیست بدانیم. ممکن است تا حدی این‌طور باشد، اما تنظیم‌کنندگان ضد انحصاری چین نیز مشتاق افزایش رقابت هستند. این امر به معنای اجرای قابلیت همکاری است. به عنوان مثال، از خدمات پرداخت در یک سیستم تجارت الکترونیکی می‌توان به صورت یک‌پارچه از یک برنامه رقیب استفاده کرد. و این به‌معنای جلوگیری از مجازات شرکت‌های تجارت الکترونیکی است که کالا را در بیش از یک مکان به صورت آنلاین می‌فروشند. تاکنون اقدامات معتمدان آمریکایی و اروپایی در کنترل فناوری بزرگ علی‌رغم تعداد زیادی پرونده قضایی و پیش‌نویس قوانین در اواخر سال۲۰۲۰ بی‌تاثیر بوده است. آن‌ها باید اقدامات چین را مورد بررسی قرار دهند تا بتوانند سمت و سوی صنعت را دریابند و نسبت به آن واکنش نشان دهند.

الگویی برای چگونگی طرز نگاه غرب به نوآوری‌های چین وجود دارد. از محصولات الکترونیکی گرفته تا صفحات خورشیدی، پیش از این پیشرفت تولیدات چین نادیده گرفته می‌شد یا به دلیل کپی‌برداری رد می‌شد، سپس در سراسر جهان راه یافت و مورد تحسین قرار گرفت. اکنون این سلیقه و عادت مصرف کننده چینایی است که جهانی می‌شود. تماشا کنید و یاد بگیرید.

# د فساد اوج، تورونه او دسیسې؛

## ارغندیوال: په ارگ کې مې د ځینو کړیو فرمایشونه نه منل، ځکه یې له دندې لرې کړم




د افغانستان د ماليې پخوانی وزير وايي، په ارگ کې يوه ځانگړې کړۍ حاکمه ده چې له مستقيمو لارو د ماليې وزارت په چارو کې لاسوهنه کوي، خو دی هم ځکه له دندې گوښه کړل شو چې د دغو کړيو پر وړاندې ولاړ و. عبدالهادي ارغنديوال په يوه خبري کنفرانس کې پر ده لگېدلي تورونه رد کړل او په وينا يې، په ارگ کې د ځينو ځانگړو مغرضو کړيو لاسوهنې د دې سبب شوي چې ولسمشر ته غلط معلومات ورکړل شي او هغه يې په اړه داسې پرېکړه وکړي. نوموړي د دغو کړيو نوم ياد نه کړ، خو وايي، په اړه به يې په کراره معلومات شريک کړي.

سره له دې چې ولسمشر په خپلو خبرو کې د سرپرستې اداري د ختمولو خبره کوي، خو په عمل کې يې په تېرو څو اونيو کې دا دويم رسمي وزير دی چې له دندې لرې کېږي او پر ځای يې سرپرست مقررېږي. د ماليې وزير په لينډۍ میاشت کې له ولسي جرگې د باور رايه اخيستې وه، خو د روانې اونۍ په پيل کې د ولسمشر غني له لوري له دندې گوښه کړل شو. د چارو ادارې له لوري په خپره شوې اعلاميه کې راغلي، چې عبدالهادي ارغنديوال په خپلو فعاليتونو کې کمزوری دی او د ماليې په راټولولو نه دی بريالی شوی.

د ماليې پخواني وزير عبدالهادي ارغنديوال بيا د همدې څرگندونو او د ولسمشر د مکتوب په غبرگون کې تېره ورځ په يوه خبري کنفرانس کې خبرې وکړې. هغه وويل چې په خپلو چارو کې يې هېڅ راز غفلت نه دی کړی، خو په ارگ کې ځينو ځانگړو کړيو د ده په کارونو کې مداخله کوله. هغه وايي، يادو کړيو که په مستقيمه توگه مداخله نه شوی کولی، نو په غير مستقيمه توگه يې د ده په چارو کې خنډونه جوړول او مداخلو ته يې ادامه ورکوله. د ده په خبره: «په ارگ کې يوه ځانگړې کړۍ وه چې د ماليې وزارت په چارو کې يې له هرې ممکنې لارې مداخله کوله. دوی که له ما سره د مخامخ کېدو جرئت نه درلود، نو په غير مستقيمه توگه يې لاسوهنې کولې».

هغه زياته کړه، چې ده هېڅکله په دغه وزارت کې د نورو وزيرانو په څېر، نه خپل خپلوان مقرر کړي او نه يې داسې کسانو ته دنده ورکړې چې له نورو هېوادونو يوازې د شخصي گټو لپاره راغلي او په ډالري معاشونو مقرر شوي وي. ارغنديوال څرگنده کړې چې دی ملي گټو ته ژمن دی او د ملي گټو د دفاع لپاره تر دې لويو قربانيو ته هم په ورين تندي هرکلی وايي. هغه ويلي، د حکومت دا تور بې ځايه دی چې گواکې ده په دغه وزارت کې غير قانوني مقررۍ ترسره کړې دي. د ده په خبره: «موږ د ماليې په وزارت کې ان يو داسې مورد هم نه لرو چې له مخې يې دې غير قانوني مقررۍ شوې وي. د وزير صلاحيتونه معلوم دي، موږ له درېيم بست پورته څوک نه شو مقررولی. څوک چې مقرر دي له ما سره هېڅ اړيکه نه لري. د دې ولس اولاد دی چې دلته يې زد کړې کړې او دلته کار کوي».

نوموړي همدا راز ويلي، چې د ۱۳۹۹ مالي کال لپاره د عوايدو د راټولو په برخه کې ټاکل شوي هدفونه سره له دې چې نه دي ترلاسه شوي، خو ستر لامل يې کرونا وبا وه. د ده په خبره، دوی تر هغو هېوادونو په څلونو د مالياتو په راټولولو کې بريالي وو، چې کرونا پکې خپره شوې او خلک يې له ستونزو سره مخ دي. د ماليې وزير په ټوله کې ويلي چې د ارگ له گڼو فرمايشونو سره يې مخالفت کړی او تل د ملي تعهد له امله له خنډونو او ستونزو سره مخ شوی دی.

د ماليې پخواني وزير داسې مهال دغه څرگندونې کوي، چې په وروستيو کې په رسنيو کې پر حکومت د فساد د موجوديت له امله تورونه ډېر شوي دي. سيگار تازه په يوه راپور کې ويلي وو چې د حامد کرزي له هوايي ډگره په غير قانوني توگه پيسې ايستل کېږي چې بايد مخه يې ونيول شي. دا ټول هغه موارد دي چې د پراخ فساد د موجوديت له امله يې اندېښنې پارولې شي.

# لوېديځ ته د روسيې خبرداری؛

## مسکو: له لاريونوالو د لوېديځ ملاتړ به ناوړه پايلې ولري

روسي چارواکي وايي، چې په دغه هېواد کې له روانو لاريونونو د لوېديځ ملاتړ د روسيې په چارو کې لاسوهنه ده او ناوړه پايلې به ولري.

دا په داسې حال کې ده چې په تېرو دريو ورځو کې د ختيځې اسيا، مسکو، سايبريا او روسيې په نورو برخو کې د لاريونونو پر مهال درې زرو ډېر کسان نيول شوي دي. د راپورونو له مخې، په يوه بې ساري گام کې د پوتين د حکومت د مخالف سياستوال، الکسي ناوالني لسگونه زره پلويان او د روسيې د حکومت مخالفين سرکونو ته راوتلي دي. د پوتين تر مشرۍ لاندې د روسيې د حکومت سرسخت مخالف الکسي ناوالني تېره اونۍ له جرمني څخه روسيې ته له راستنېدو سره سم، په هوايي ډگر کې ونيول شو. ناوالني د ځان پر وړاندې د حکومت دغه کار سياسي اقدام بللی دی.

د ناوالني پلويانو د اعتراضونو په تړاو د لوېديځو هېوادونو له ډلې فرانسې د بهرنيو چارو وزير ژان يويس لودريان ويلي، چې د دغو اعتراضونو په تړاو بايد د پاريس پوښتنو د روسيې امنيت په تړاو ځواب وويل شي. هغه د ناوالني د پلويانو نيونه د قانون او امنيت خلاف بللې او ژر تر ژر يې د دوی پر خلاصون ټينگار کړی دی.

لودريان زياته کړې: «زه په روسيه کې استبدادي چلند د اندېښنې وړ بولم. د اعتراض کوونکو نيونه چې د قانون حاکميت تر پوښتنې لاندې راولي، د زغملو نه دی. له دې سره په روسيه کې د اعتراض کوونکو برياليتوب د ليدو دی.» نوموړي دغه راز ويلي: «موږ غواړو چې ناوالني ازاد کړی شي او د هغه د وژنې هڅې په تړاو مالومات ورکړل شي. په هغه هېواد کې چې قانون حاکم وي، بايد روښانه چې ولې بايد څوک ووژل شي.»

په ورته مهال، د روسيې پوليس بيا دغه لاريونونه د قانون خلاف بولي او د لاريونوالو پر ضد يې د جدي اقداماتو خبرداری ورکړی دی، خو لاريونوالو ويلي چې په حکومت کې له فساد ستړي شوي او د ازادۍ شعارونه ورکوي.


يوه اعتراض کوونکي په دې اړه وويل: «زما د قهر لومړی لامل دا دی چې کله تاسې وغواړئ دولتي چارواکي ستاسې ستونزه هوارې کړي، نو تاسې به له بندو دروازو سره مخامخ کېږئ، سره له دې موږ لا هم ماليه ورکوو، کلونه کېږي چې موږ په حکومت کې کار کوو او له خپل هېواده نه يو وتلي، حکومت زموږ د ستونزو هوارې ته پام نه کوي.» دغه راز ناوالني بيا پر پوتين تور پورې کړی چې د هغه د وژلو امر يې کړی و، خو پوتين دا تورونه په کلکه رد کړي او ويلي يې دي چې د ناوالني کړنې د هغه د بې باوره کولو لپاره د امريکا د هڅو يوه برخه ده.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




دی ورغی او لکه ښاغلی دولت چې وایي، اډواني او نورو پر ځمکه را وغورځاوه. په سهارنۍ ناسته کې «اشرف جهانگير قاضي» خبرياﻻن را وغوښتل او غونډه يې پر ټلوېزيون وښودله. په مهمه لیدنه کې د رسنيو له ﻻرې خپل پيغامونه نه شی استولی. که خامخا باید یو څه وویل شي، نو یوازې همدومره ویل پکار دي چې موږ خپله ټوله هڅه کوو.
خلکو چې ولیدل چې په سرمشریزه کې هېڅ هم و نه شول، واجپای چې ډېر باتجربې او ډېر قدرمن شخص و، د مشرف خدای پامانۍ ته و نه درېد. موټر ته را و نه وت. زموږ په کلتور کې دا ډېره نادوده ده. مثلاً، که په ضیاءالحق به یو څوک ښه و نه لگېد، خو تر موټره به ورسره ﻻړ او دروازه به یې ورته پرانیسته. دا د هغه سټايل و. لومړی وزير چې له «مېلمه» ولسمشر سره تر موټره ﻻړ نه شي، ډېر بد ښکاري.
واجپای ورسره ﻻسونه وښورول او نور ﻻړ. تر موټره یو څو گامه یوازې تگ پر مشرف د قیامت ورځ وه. وای وای، له حرکاتو یې معلومېده، مشرف بس له خدایه غوښتل چې څوک یې و نه ویني یا یې انځور و نه باسي.

### ۱٦
### د مودي حيرانوونکي گامونه

دولت: ښايي دا به درته حيرانوونکې وي، که درته ووايم چې مودي په لومړيو دوو کلونو کې د هند-پاکستان اړيکو لپاره تر خپل سلف ډېرې هڅې وکړې. دا يو بېل ډول او بدله ډيپلوماسي ده چې د بهرنيو چارو وزارت پکې لږ رول لري. هر څه د لومړي وزير له دفتره کېږي، ځکه خو په اسانه کېږي. مودي له هغو خنډونو په تېرېدلو کې ستونزه نه ويني چې ډيپلوماټان يې... ان د بهرنيو چارو وزير يې په دې جريان کې معموﻻً دخيل نه وي.
سېنها: دا له داخلي خنډونو د تېرېدو ښه ﻻره ده.
دولت: له دې امله نه چې گواکې «سشما» به په دې ﻻر کې خنډ وي، ځکه هغه د حکومت ښه وزيره ده.
د مودي يادښتونه ښيي چې د خپلې لوړې مراسمو ته يې د ميا صېب د راغوښتلو نيت درلود. متأسفانه چې د بهرنيو چارو وزير دغه حالت کابو نه کړای شو. له دې وروسته لکه چې ښکاري، حالت کړکېچن شو. بيا يې نو که په کټمنډو کې سره کتلي، که په نيويارک کې او که ﻻهور ته تللی، نو له وړاندې يې پلان نه دی جوړ کړی.
صېبه! د ډسمبر پر ۲۱ مه زموږ ټوله هيله دا وه چې گواکې يو څه به وشي.
دوراني: هو!
دولت: د ډسمبر پر ۲۵مه مودي په ﻻهور کې و، دا نو ډېره عجيبه وه.
بله مثبته خبره دا ده چې د ملي امنيت شورا گانې له يو بل سره نږدې اړيکې لري. ويل کېږي چې دوی له يو بل سره خبرې کوي. متأسفانه پر ټولو هيلو سربېره، اړيکې ډېرې ژر کړکېچنې شوې. زه داسې انگېرم چې اوس ورته موږ يوازې شېبې شمېرو. سياستونه اوس ډېر پېچلي شوي دي. د منموهن سېنگ او واجپای د وختونو په شان پاتې نه دي، دوی خبرې پټې ساتلې. سمه ده، د سياستونو هغه څه بايد په رسنيو کې راشي چې تاسو ترې ترلاسه کړي دي. هر لومړی وزير سياسي وي، خو غير مسلکي چلند بايد و نه شي.
سېنها: د پاکستان په تړاو د مودي سياست (پالېسي) څه ده؟
دولت: ښېخي پرې خبر نه يم. د پاکستان په تړاو پالېسي نه لري.
دوراني: د پاکستان پالېسي يې ډوال دی.
دولت: هو! خو پوهېږې چې مودي او ډوال يو شی دي. بلاخره هغه يې د ملي امنيت سلاکار دی او دی به له هغه بدل څه و نه کړي.
ښېخي فرصت طلبي حاکمه ده. دی ﻻهور ته ﻻړ، خو هغه ښې ورځې وې. د هر چا په خوله دا خبره وه چې د مودي او ميا صېب تر منځ اړيکې ښې دي. ځکه ميا صېب ښېخي ځان واژه (ډېر کوښښ يې کاوه) د ده سياسي برداشت به دا و چې له هند سره ښې اړيکې به ده ته له سياسي پلوه ښې وي او د يوه سوداگر په حيث هم. که اړيکې ښې وي، نو سوداگري هم ورسره ښه کېږي، کسب او کار او ډېر نور شيان هم ورسره ښه کېږي. دی به د پنجاب او هند په تړاو ډېر ډاډه و.
يو وخت مودي هم دغسې ورسره روان و. تر هغې چې د «پټان کوټ» پېښه وشوه. د پټان کوټ سره خو يې يو څه حوصله وکړه. خو تر «يوري» وروسته د مودي نظر دا و چې موږ ﻻس در وغځاوه خو تاسې مو ﻻس را پرې کړ، وخت نا وخت راسره د پټان کوټ او يوري غوندې کار کوئ؛ نو تجارت څنگه سره وکړو؟
په سياست کې د مفتي صېب غيابت هم د سياست په لويه سناريو اغېز کړی دی. لور يې محبوبه يو آفت دی.
سېنها: جنرال صېب تاسو واياست چې مودي په سيمه کې د سټايلو وړ کار نه کوي. لطفاً توضيح يې کړئ.
**دوام لري...**

# جو بایډن

◀ شفیق امیرزی



جو بايډن امريکايي سياستوال دی چې د ۱۹۴۲ کال د نومبر په ۲۰مه د امريکا د پنسلوانيا ايالت په سکرانتون کې زېږېدلی دی. مور يې کاترين بايدن او پلار يې جوزف بايدن نومېده. بايډن د خپلې کورنۍ مشر اوﻻد دی. کورنۍ يې کاتوليک مذهبې ده او تر ده وروسته يې مور او پلار د دريو نورو اوﻻدونو خاوندان هم شول. دی يوه خور او دوه وروڼه لري. مور يې په اصل کې د ايرلنډ ده. خپل نيکونه يې هم برېتانوي، فرانسوي او ايرلنډي ټبري دي. ويليام بايډن د جو بايډن نيکه په اصل کې د انگلستان د ساکس و. امريکا ته کډوال شو او هلته يې ژوند کړی دی. مورنی نيکه يې اډوارډ فرانسيس ايرلنډی کډوال و، چې له ۱۹۰۷ تر ۱۹۱۰ کال پورې د امريکا په سنا کې د پنسلوانيا استازی و.
د بايډن نيکه يو شتمن سړی و، خو يو وخت له مالي ماتې سره مخ کېږي او پرله پسې زيانونه يې اقتصادي وضعيت خرابوي. نو له همدې امله د ده پلرنۍ کورنۍ اړ کېږي چې د ده له مورني نيکه سره ژوند وکړي او څو پرله‌پسې کلونه د دوی په کور کې مېشت شي. کله چې سکرانتون په ۵۰مه لسيزه کې له مالي بحران سره مخ شو، د جو پلار هم د يوه مناسب کار له پيدا کولو محروم شو. په ۱۹۵۳ کال کې هغه مهال چې بايډن ﻻ لس کلن و، کورنۍ يې د دلاوېر په کليمونټ کې يو کوچنی کور واخيست. دوی هم دې سيمې ته ولېږدېدل او څو کاله وروسته په ميلمينگټون کې په يوه بل کور کې هستوگن شول. وروسته وروسته يې پلار پرمختگ وکړ او د چلېدلو موټرونو د پلور په يوه بريالي سوداگر بدل شو. له دې ﻻرې يې پلار د خپلې کورنۍ اړتياوې پوره کولې.
بايډن په ښوونځي کې يو څه ټمبل زده کوونکی و. ان ښوونځي يې پرېکړه وکړه چې درېيم ټولگی به بيا ځلې لولي. د ليسې په دوره کې بيا يې بيا له فوټبال سره مينه وه او د امريکا د فوټبال له مشهورو ټيمونو سره يې لوبې کولې. ده چې ﻻ تنکی ځوان و، د جان اف کينيډي او مارټين لوتر کينگ له شخصيت او افکاو متاثر و. وروسته يې د دلاوير پوهنتون ته ﻻره پيدا کړه او له دې پوهنتون يې د تاريخ او سياسي علومو په برخه کې خپل سند واخيست. له دې وروسته سرايکيوز پوهنتون ته ﻻړ او هلته يې هم د حقوقو زده کړې بشپړې کړې او د فراغت سند يې واخيست. دلته هم دومره تکړه نه و او د خپل ټولگي د ۸۵ زده کوونکو په منځ کې يې ۷٦م ځای درلود.
په ۱۹٦٦ کال کې چې بايډن ﻻ د پوهنتون زده کوونکی و، له نيليا هانټر سره يې واده وکړ. د نيليا کورنۍ په لومړي سر کې له دې سره موافقه نه وه چې هغه دې له يوه کاتوليک مذهبي کس سره واده وکړي، خو په پای کې يې دې کار ته تياری وښود. د دوی دواړو د واده مراسم په يوه کاتوليکه کليسا کې د نيويارک ايالت په سکانيټلس ښار کې تر سره شول. د دوی دواړو د واده پايله درې اوﻻدونه دي. ان هغه مهال بايډن خپلې مېرمنې ته ويلي وو چې غواړي تر دېرش کلنۍ پورې په يوه پياوړي سناتور بدل شي. دا يې هم ويلي وو چې که تر دېرش کلنۍ سناتور شو، نو بيا به له هغې وروسته د ولسمشر کېدو لپاره خپلې ټولې هڅې کوي.
په ۱۹٦۸ کال کې جو بايډن په ويلمينگټون حقوقي موسس کې د شپږو مياشتو لپاره د حقوقو زده کړې وکړې او له دې وروسته يې د يوه منشي په توگه دنده پيل کړه. په همدې موده کې يې د وکيل دنده هم تر سره کوله. ويليم پرسکټ چې د جمهوري غوښتونکي گوند مخکښ غړی و، د دې موسسې مشري يې کوله. بايډن بيا وروسته وويل چې دلته يې ځان يو جمهوري غوښتونکی باله. بايډن ان هغه مهال د جمهوري غوښتونکي گوند له هغو غړو هېڅ راز مﻼتړ نه کاوه، چې دوی به د نژادپالنې افکار درلودل او په مقابل کې يې د هغو کسانو تر څنگ درېده چې پراخ او لېبرال افکار او نظريه يې لرله. جمهوري غوښتونکو د هغه استعداد پېژندلی و، نو ځکه يې غوښتل چې دی په رسمي توگه دې گوند ته جذب کړي. خو ده وروسته وويل چې د دې گوند مشر ريچارډ نيکسن يې نه خوښېده، نو ځکه يې له دغه گوند سره د يو ځای کېدو غوښتنه رده کړه.
بايډن په ۱۹۷۲ کال کې له دلاوېر ايالت د امريکا سنا ته نوماند شو. کيلب يې په دې ټاکنو کې ټاکنيز سيال و، خو ماتې يې وخوړه. په دې توگه بايډن تر ټولو د ځوان سناتور په توگه د امريکا سنا ته د ننه شو. لومړۍ مېرمن يې نيليا په همدې کال په ۱۹۷۲ کال کې له خپلې يوې وړې لور سره په ترافيکي پېښه کې مړه شوه، خو زامنو يې سطحي ټپونه لرل او له دې پېښې روغ ووتل. بايډن بيا په ۱۹۷۷ کال کې پرېکړه وکړه چې له جيل تريسي سره واده وکړي. له دې مېرمنې هم د اشلي په نامه يوه لور لري. جو بايډن همدا چې د امريکا سنا ته ﻻړ، نو له چاپېريال ساتنې يې خپله دنده وگرځوله او له حکومت يې په دې اړه د ځواب غوښتنه کوله. ده د امريکايانو د حقوقو او اړوندو نورو مسايلو په اړه اغېزناکې څرگندونې کولې. په ۱۹۷۴ کال کې د ټايم مجلې دی د نړۍ په راتلونکي کې د ۲۰۰ اغېزناکو څېرو په کتار کې ودراوه. ده به له رسنيو سره هم پر بېلو مسايلو خبرې کولې، تر ډېره يې خبرې د امريکايي وگړو د حقونو پر خونديتوب او نورو مسايلو راڅرخېدې. بايډن د امريکا په سنا کې ورو ورو په مطرح سياسي څېره بدلېدو او پر مهمو مسايلو به يې د نظر ورکړې ته خلک په تمه وو. همدا راز يې په مهمو پرېکړو کې رايه د اهميت وړ وه. بايډن د اوږدې مودې لپاره د امريکا په سنا کې و. ان تر ۲۰۰۸ کال پورې په پرله‌پسې توگه دی د امريکا سنا ته بريالی کېدو او هېڅ رايې ترې ونه شوی گټلی.
هغه مهال چې بايډن د امريکا په سنا کې و، خبرو او ويناوو به يې نانډرۍ پارولې. د ده په اړه يوه خبره دا ده چې هېڅ وخت د خپلې وينا مخکې ليکلي متن ته وفادار نه دی؛ بلکې څه يې چې زړه وغواړي وايي يې. دی په خبرو کې تکړه دی، ژبور دی، خو متن ته وفادار نه دی. دی همدا راز په بحثونو کې په ډېر مهارت سره گټونکی کېږي. د تېزې ژبې او په زړه پورې ځوابونو د ورکولو له امله به هغه ډېر وخت د سياستوالو لپاره په ځانگړو شوو تفريحي خپرونو کې راڅرگندېده. بايډن شته او پيسې نه لرل. دی پخپله وايي چې د امريکا د سنا دويم بېوزله غړی دی. کلنۍ عايد يې له سنا دومره کېده چې خپل ژوند ورباندې وچلوي او په راتلونکو ټاکنو کې کمپاينې سيالۍ وکړي. ان کله چې دی د امريکا د هغه وخت د ولسمشر بارک اوباما مرستيال هم و، دومره شتمني يې نه لرله. د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو تر منځ د بايډن د کورنۍ ټوله شتمني د ۱۵،٦ ميليونه ډالرو په شاوخوا کې وه. دی په دې افتخار نه کوي چې گواکې د سنا تر ټولو بېوزله غړی و، بلکې وايي د بېوزلۍ ﻻمل يې دا و، چې تر کار او ژوند جوړولو مخکې يې سياست غوره کړ او مخکې تر دې چې پيسې پيدا کړي، د امريکا سنا ته يې ﻻره موندده او ان تر هغه يې دې دندې ته ادامه ورکړه چې د بارک اوباما مرستيال شو. بايډن له ۱۹۸۸ کال راپدېخوا په دې لټه کې و چې د خپل گوند له ﻻرې د امريکا ولسمشرۍ ته ځان ورسوي، خو په گوند کې د ننه په ټاکنو کې د ماتې له امله د يو څه مودې لپاره له دې سياليو په شا شو. په ۲۰۰۷ کال کې يې بيا هم پرېکړه وکړه چې په گوند کې د ننه سيالۍ وگټي او له دې وروسته د امريکا ولسمشريزو ټاکنو ته د خپل گوند نوماند شي. هغه نانډريزې څرگندونې پيل کړې، د امريکا د سياستونو پر اصلاح يې خبرې کولې، پر ډېرو مسايلو يې نانډريز بحثونه کول. په لومړي سر کې له هرکلي سره مخ و، خو پر وړاندې يې په گوند کې بارک اوباما وﻻړ و. کله کله به داسې وشول چې پخپله يې هم دې اوباما ستاينه کوله، له همدې امله د ده له کمپاينې بهير سره مالي مرستې کمې شوې. اوباما او بايډن په سنا کې په خپلو کې سره پېژندل. د بايډن کمپاين هغه مهال په سمه توگه نه و روان، خو د کمپاين په موده کې يې له اوباما سره ﻻ ډېر وپېژندل.
بايډن په دې توگه په رسمي توگه د اوباما مرستيالۍ ته نوماند شو. هغه په ټاکنيزو کمپاينونو کې د اوباما په گټه ډېرې منډې ترړې وکړې، خو دومره د رسنيو پام نه ور اوښت. د مقابل گوند ورسره مک کين وﻻړ و. مک کين د بايډن شخصي ملگری و، خو په ټاکنو کې يې پر ضد سختې څرگندونې کولې.
بايډن د اوباما د ولسمشرۍ پر څوکۍ دومره مسووليتونه او دندې نه لرلې. هغه به ډېر وخت له اوباما سره خپل نظريات شريکول، خو کله کله يې د اوباما پام نه اړاوه. افغانستان ته يې د شاوخوا ۲۱ زره سرتېرو له لېږلو سره مخالفت وکړ، خو اوباما د ده پر ځای د کلينټن خبره ومنله. هغه به هر دوې مياشتې يو ځل عراق ته سفر کاوه او هلته يې خپل نظامي ماموريتونه کتل. افغانستان ته يې هم څو ځله هغه مهال سفر وکړ او له بېلو چارواکو سره يې ليده کاته لرل. سره له دې چې اوباما او بايډن په خپلو کې ډېر شخصيتي توپير درلود، خو بيا هم دوی په دې بريالي شول چې په خپلو کې ښه ملگرتيا جوړه کړي. په دويم ځل ټاکنو کې بيا گټونکي شي او بايډن بيا هم د اوباما مرستيال پاتې شي. دوی تر هغه حکومت ته ادامه ورکړه چې واک يې ټرمپ ته وسپاره.
بايډن په ۲۰۱۹ کال کې پرېکړه وکړه چې د امريکا ولسمشريزو ټاکنو ته ودرېږي. په دې موده کې بريالی شو چې د گوند له ننه ټاکنې وگټي او کامیلا هاريس ورسره مرستياله شي. په دې بهير کې يې گوند او پخواني ولسمشر بارک اوباما سخت مﻼتړ کاوه. د ۲۰۱۹ کال د نومبر د ټاکنو پايلو وښوده چې دی تر ټرمپ مخکښ دی او تر خپل سيال يې ډېرې الکټرال رايې گټلې دي. بايډن په دې توگه د امريکا ولسمشرۍ ته ورسېد.
هغه داسې مهال د امريکا ولسمشرۍ ته رسېږي چې د امريکايي رسنيو په باور ټرمپ په امريکا کې هر څه خراب کړي دي. هغه ادارې له منځه وړې دي، بې نظمۍ يې جوړې کړې دي، لسگونه قانوني پرېکړې يې ناسمې کړې دي، د امريکا لپاره يې په ملي او نړيواله کچه ستونزې جوړې کړې دي، نو اوس بايډن اړ دی چې دا هر څه سم کړي. يوې امريکايي رسنۍ په وروستيو ورځو کې ليکلي، کلونه وخت به وغواړي چې بايډن بېرته د امريکا په حکومت کې سم سمکی راولي. بايډن همدا چې واک ته ورسېد، لومړنی شعار يې په امريکا کې د يووالي ټينگول وو. هغه پر امريکايانو غږ وکړ چې تر هر څه وړاندې دې امريکايان وي او د امريکا لپاره دې ژمن شي. نوموړي وويل چې هر څه يې د امريکايانو دي او د امريکايانو لپاره تر هر څه تېر دی. هغه ژمنه کړې چې په نړيواله کچه به د امريکا د رهبرۍ رول بېرته را ژوندی کوي او دغه هېواد به بيا د دې وړ کوي چې په نړيواله کچه مسايل رهبري کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۹۳,۵ |
| Rp. | ٤۷۸ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٤,۲ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د رهبرۍ د مهارتونو د پیاوړتیا لپاره ۳۰ ورځنی تمرین

ژباړه: عطامحمد میاخېل

آیا پوهېږئ چې ستاسو د مدیریت او رهبرۍ د مهارتونو پیاوړی ټکی کوم دی او څنگه کولای شئ، چې په غوره رهبر باندې بدل شئ؟ د یادونې وړ ده چې ځینې ټکي شته چې له تاسو سره مرسته کوي، څو په لنډ وخت کې د پام وړ پرمختگ وکړئ.

ښایي هغه ټکي او ستراتیژیانې چې له تاسو سره یې شریکوو، د رهبرۍ د ټولو ننگونو د پرېښودلو لپاره د حل اغېزناکه لاره نه وي، خو دا سپارښتنې له تاسو سره مرسته کوي، څو په ډېره چټکه توگه پرمختگ وکړئ.

په دېرشو ورځو کې د رهبرۍ د مهارتونو د ښه والي لپاره دېرش گامونه:

۱ ــ د ډلې د ټولو غړو نظرونو ته غوږ ونیسئ او له هغوی سره د اړیکې لپاره غوره لارې پیدا کړئ، لکه: د معلوماتو وړاندې کول، د ایډیاوو شریکول او یا د هغو په اړه بحث کول.

۲ ــ په یاد مو وي چې پېرېدونکو (مشتریانو) ته د سازمان تر ټولو نږدې کسان هغه کارمندان دي، چې پوهېږي دا اوس څه د پېښېدو په حال کې دي، ډېره هڅه وکړئ او پوه شئ چې هغوی په څه باندې پوهېږي.

۳ ــ په ډېرې لېوالتیا او انگېزې له ټول ټیم سره کار وکړئ او ملاتړ یې تر لاسه کړئ. دا په دې مانا ده چې له هغو کسانو سره، چې ستاسو د اړینو اړیکو له شبکې څخه بهر دي، هم اړیکه ټینگه کړئ.

۴ ــ ډاډ تر لاسه کړئ چې کړنې او خبرې مو له یو بل سره سمون لري.

۵ ــ هېڅکله ځینو کارمندانو ته په نورو باندې غوره والی مه ورکوئ، که ځینو ته پاملرنه وکړئ او ځینې نور نالیدلي ونیسئ، نو په ټیم کې به د اختلافاتو د رامنځته کېدو سبب شئ. اړینه ده چې د ټیم موخو ته د رسېدو په لاره کې د ټولو کارمندانو له وړتیاوو څخه گټه واخلئ.

۶ ــ کله چې د ټیم یو د غړو له چلند او ایډیاوو سره مخالف یاست، نو مخالفت په دوه کسیزه خبرو کې بیان کړئ، نه د ډېرو کسانو پر وړاندې. پر دې سربېره چې دا کار ډېر ژر تر سره کړئ، نن او سبا مه کوئ.

۷ ــ د ټیم د غړو له همېشني کنټرول څخه لاس واخلئ، هغوی ته کاري ازادي ورکړئ، پرېږدئ، همداسې چې په دې لاره کې پرمختگ کوي، په خپله د خپلو اقداماتو او تصمیمونو مسوولیت پر غاړه واخلي.

۸ ــ هر معلومات چې اړین وي، د ټیم له غړو سره یې شریک کړئ، هغوی چې هر څومره ډېر وپوهېږي، شرایط، موخې او دندې به په ښه توگه درک کړي. هر څومره چې ډېر درک وکړي، نو د ژمنتیا لا ډېر احساس به ولري او کله چې خپل ځانونه ژمن وگڼي، له هڅې او کوښښ څخه لاس نه اخلي.

۹ ــ خپلو کارمندانو ته د منني یادښتونه واستوئ، هغه مدیران چې د خپلو کارمندانو له هڅو او کوښښونو څخه مننه کوي، نو هغوی ته ډېره انگېزه او انرژي ورکوي.

۱۰ ــ د خپل شرکت د اداري لپاره غوره کسان وټاکئ او هغوی ته د کړنو ازادي ورکړئ، حتی که شونې وي تېروتنه وکړي، هېڅکله د ډېرو کسانو پر وړاندې پر هغوی باندې قضاوت مه کوئ او مه یې هم رټئ.

۱۱ ــ د خپل ټیم د غړو د شخصي ژوند په اړه هم له هغوی سره وغږېږئ، پرېږدئ چې هغوی وپوهېږي چې ژوند ته یې هم ارزښت ورکوئ.

۱۲ ــ دا جمله په یاد ولرئ: «د فیډبک ورکړه، د اتلانو سبا ناری دی» ټول کارمندان لېوالتیا لري څو پوه شي، چې څنگه کار کوي، ښه او بریالي رهبران تل او په منظمه توگه د خپل ټیم غړو ته فیډبک ورکوي.

۱۳ ــ د همکارۍ روحیې او مثبتو اړیکو ته پراختیا ورکړئ، کله چې د ټیم غړي د یووالي او اتحاد احساس وکړي، نو د خپلو نظریاتو او ایډیاوو له بیانولو څخه وېره نه لري او دا مسئله د لا ډېرو خلاقانه ایډیاوو د وړاندې کولو سبب گرځي.

۱۴ ــ له نورو سره مرسته وکړئ، چې پرمختگ وکړي او نوي مهارتونه زده کړي.

۱۵ ــ بریالي رهبران د خپل ټیم د غړو په اړتیاوو باندې پوهېږي؛ نو له کارمندانو سره د هغوی د اړتیاوو په اړه خبرې وکړئ.

۱٦ ــ دا ډاډ تر لاسه کړئ چې کارمندان مو خپلې موخې پېژني، هر څه چې کولای شئ وې کړئ، څو هغوی وهڅوئ او ملاتړ ترې وکړئ او هر کله یې چې ستاسو لارښوونې ته اړتیا لرله، ښه روزونکی واوسئ.

۱۷ ــ کارمندانو ته د پروژو او دندو مسوولیت وسپارئ او پرېږدئ، چې کارونه په خپلې تگلارې سره تر سره کړي.

۱۸ ــ ټول اړین معلومات د کارمندانو په واک کې ورکړئ.

۱۹ ــ د میاشتنۍ کړنو د ارزونې پر ځای، کارمندانو ته په غیر رسمي او دوستانه توگه فیډبک ورکړئ.

۲۰ ــ د کارمندانو د هڅونې د تگلارې په اړه دقت وکړئ، دا چې کارمند ته ووایئ، چې کار دې ښه و او وروسته ترې لرې شئ، بسنه نه کوي، د کارمندانو د عادي او ورځنیو کړنو پر ځای، د یوې ځانگړې لاسته راوړنې په لټه کې واوسئ، څو یې وهڅوئ.

۲۱ ــ که چېرې له کارمند سره مو کومه ژمنه کړې وي، نو هرومرو یې وڅارئ، ښایي ستاسو اقدامات داسې یوه ځای ته ورسېږي، چې اړتیا وي، توضیحات ورکړئ چې دمگړۍ ولې هغه ژمنه د پوره کېدو وړ نه ده.

۲۲ ــ د ماتو، ننگونو او سختو تصمیمونو په اړه، چې نیولي مو دي، له کارمندانو سره خبرې وکړئ. ربښتیني اوسئ، لکه څنگه چې ښه خبرونه د هغوی غوږونو ته رسوئ، نو له بدو خبرونو څخه یې هم خبر کړئ. مسئله دا ده چې په هر ډول شرایطو کې ربښتیني واوسئ.

۲۳ ــ په هر ډول شرایطو کې د ټیم د غړو خبرو ته غوږ ونیسئ او یو فعال اورېدونکی واوسئ، باید د نورو ایډیاوو ته پام وکړئ، تل په لاسرسي کې واوسئ او ځان غوښتنه پرېږدئ.

۲۴ ــ دا ډاډ تر لاسه کړئ چې ټول غړي پوهېږي، ولې کاري غونډې ته رابلل شوي، داسې قوانین جوړ او پلي کړئ، چې غونډې د خبرو اترو لپاره، په یوې خوندي او هوسا فضا باندې بدلې شي.

۲۵ ــ د غبرگون ښکاره کولو پر ځای، ځواب ویونکی واوسئ.

۲٦ ــ د ټیم غړي مو تازه وساتئ. کارمندان باید په دې باندې پوه شي، چې کار یې څنگه د یوې پروژې د پرمختگ او وروستیو موخو ته د نږدې کېدو سبب گرځي.

۲۷ ــ پر هغو مسایلو باندې تمرکز وکړئ، چې ډېر زیات ارزښت لري او خپله لومړیتوب بندي په همدې اساس په پام کې ونیسئ. سټیو جابز ویل: «د هغو کارونو په اړه تصمیم نیونه چې نباید تر سره یې کړې، د هغو کارونو د تصمیم نیونې په اندازه مهم ده، چې باید تر سره یې کړې، دا مسئله د کاروبارونو په اړه هم صدق کوي، لکه څنگه چې د محصولاتو په اړه صدق کوي.»

۲۸ ــ مخکې تر دې چې پایله تر لاسه کړئ او قضاوت وکړئ، دا فرضیه په پام کې ونیسئ چې نورو په ښه نیت سره یو کار تر سره کړی دی او ښایي تاسو له هر څه څخه خبر ونه اوسئ.

۲۹ ــ خپل ځان ته فیډبک ورکړئ؛ نو د هغو کارونو په اړه چې تر سره کړي مو دي او دا چې څنگه کولای شئ ښه واوسئ، فکر وکړئ.

۳۰ ــ له خپلو کارمندانو سره مینه ولرئ. امریکایي فوټبال روزونکی وینس لومبارډي وایي: «مینه وفاداري ده؛ مینه ټیمي کار دی؛ مینه یانې افرادو ته درناوی کوئ، دا هماغه څه دي چې یوه سازمان ته ځواک وربښي.»

## د اوسپني پټلۍ اداره: ډېرېدونکې نا امني مو د کارونو پر وړاندې جدي ننگونې رامنځته کړې

د اوسپني پټلۍ اداره وایي چې په هېواد کې ورځ تر بلې ډېرېدونکې نا امني د پروژو د پلي کولو پر وړاندې لویې ننگونې جوړې کړې دي.

ملت ته د حساب ورکولو د پروگرام په دوام، تېره ورځ د اوسپني پټلۍ اداري او کار او ټولنیزو چارو وزارت خپل کلني راپورونو وړاندې کړل.

د افغانستان د اوسپني پټلۍ اداره د خپلو پروژو پلي کولو پر وړاندې د امنیت، تخصصي کسانو او د تجهیزاتو نشتون عمده ستونزې بولي.

د دې ادارې مشر یما شمس وویل، د اوسپني پټلۍ اداره خپلې هڅې کوي، چې افغانستان له سیمې او نړۍ سره وصل کړي، خو په هېواد کې نا امني یې پر وړاندې لوی خنډ دی.

هغه زیاته کړې: «د پروژو په پلي کولو کې زموږ ستونزه چې په هېواد کې یې د ټولو پراختیایي پروژو پر وړاندې لرو، هغه د امنیت نشتون ستونزه ده، د قراردادیانو یا دا چې موږ له بهرنیو هېوادونو سره کار کوو، د دوی امنیت ساتل موږ ته سخت دي.»

د شمس په خبره، تېره اونۍ له ترکمنستان سره د اقینې ـ اندخوی د اوسپني پټلۍ پر ټاکلي وخت پرانیستل شوه، خو په خبره یې، د راتلونکي لپاره د رېل پټلیو د پراختیا لپاره باید د امنیت ساتنې په برخه کې جدي کار وشي.

د اوسپني پټلۍ اداري د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۴۰۰ لمریز کال کې به د خوف ـ هرات اوسپنۍ پټلۍ دویم فاز څلورمه قطعه او د سپین بولدک ـ کندهار، تورخم- جلال اباد اوسپنیو پټلیو ساختماني چارې هم پیل شي.

د یادونې ده چې ملت ته د دولتي ادارو د حساب ورکونې پروگرام د روانې لمریزې میاشتې په لومړۍ نېټه پیل شو. افغان چارواکي وایي، د دغه پروگرام موخه د ولس او حکومتي ادارو ترمنځ د رامنځته شوي واټن له منځه وړل او د باور فضا رامنځته کول دي.

## سیگار: له حامد کرزي نړیوال هوایي ډگره بهر ته د پیسو د قاچاق دوام، د جدي اندېښنې وړ دی

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا پلټونکي اداره یا سیگار وایي، د حامد کرزي نړیوال هوایي ډگر له لارې له هېواده بهر ته د پیسو د قاچاق دوام سخت اندېښمن کړي او وایي، چې له هر ډول مخنیوي پرته د قاچاق بهیر دوام لري.

سیگار په یوه نوي راپور کې وایي، چې د کابل په هوایي ډگر کې د پیسو د نمبرونو د موندلو دستگاوې له یوې لسیزې راهیسې غیر فعالې دي او ان دولتي چارواکي، سیاسیون او د ولسمشر د دفتر کسان د هوایي ډگر په ځانگړې برخه کې د پیسو له ثبته معاف دي.

په راپور کې همدارنگه راغلي، چې عادي مسافر په پنځو تر شپږو ځایونو کې تلاشي کېږي، خو ځانگړي مېلمانه ان په یوه برخه کې هم نه تالاشي کېږي. د دغه راپور پر بنسټ، د هوایي ډگرونو او ځمکنیو بندرونو له لارې د پیسو د چاقاق کچه نږدې ۴.۵ میلیارد ډالر اټکل شوې ده.

سیگر همدارنگه ویلي، چې لوړپوړي دولتي چارواکي او همدارنگه هغه کسان چې سیاسي نفوذ لري او د ولسمشر د دفتر کسان، د ډېرو مهمو کسانو په توگه د پیسو له چک څخه معاف وو.

په راپور کې راغلي: «سیگار ترلاسه کړه چې د گمرک چارواکي په هوایي ډگرونو کې په منظمه توگه د نغدي پیسو د شمېرلو له دستگاوو څخه د پیسو د بهر کولو د تعقیب لپاره استفاده نه کوي. په واقعیت کې، د پیسو د تعقیب دستگاوو له نصب څخه یوه لسیزه وروسته، لاهم دغه دستگاوې له انټرنېټ سره نښلول شوې نه دي.»

په ورته مهال د امریکا د کانگرېس د خدماتي څېړنو یو راپور ښیي چې د اټکل له مخې، په ۲۰۱۱ کال کې څه باندې ۴،۵ میلیارده ډالر یوازې په یوه کال کې له افغانستانه بهر ته قاچاق شوي، چې یوه ستره برخه یې د نشه‌یي توکو پیسې دي. په دغه راپور کې راغلي، چې په ۲۰۱۵ز کال کې هم د افغانستان د روڼتیا د څار بنسټ ٦۵ سلنه ټولې نغدې پیسې چې له افغانستانه بهر کېږي، په ناقانونه توگه ترلاسه شوې، لېږدول کېږي او یا هم تر استفاده کېږي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې اوومه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۶مه | ٦٧٠یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۹ | ۱۴ | ۱۱ | ۸ | ۱۹ | ۸ |
| -۵ | -۴ | ۱ | -۳ | ۲ | -۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰٦:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیګر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰۵:۱۷ | ماخوستن ۰٦:٤٤

## نړۍ




## ولسي جرگه: حکومت برای مجبور ساختن وکلا به تصویب بودجه، برخی نزدیکان آنها را برکنار کرده است



رئیس و برخی اعضای ولسی جرگه می گویند که حکومت، برای مجبور ساختن اعضای این جرگه به منظور تصویب طرح بودجه، شماری از نزدیکان وکلا را برکنار و برخی ها را تهدید به برکناری کرده است.
رئیس این جرگه بر موقف قبلی این جرگه در قبال مسوده بودجه تاکید نموده گفت که این بار طرح بودجه رد نخواهد شد، بل این جرگه مطابق قانون در سند بودجه تعدیلات را به میان می آورد و آن را بعد از تصویب به حکومت می فرستد.
این در حالی است که ولسی جرگه، در دهم ماه جدی طرح نخست؛ و در بیست و هفتم همین ماه، طرح دومی بودجه سال مالی ۱۴۰۰ هجری شمسی را با اکثریت آراء به دلیل حذف بیش از ۱۱۰۰ پروژه ولایتی، افزایش بودجه در کودهای احتیاطی و برخی موارد دیگر چون عدم تعادل در معاش کارکنان دولت، رد کرده است.
این جرگه به میان آوردن تعادل در معاشات مامورین و معلمین را خط سرخ خود خوانده، هشدار داده است تا زمانی که حکومت به خواست های نماینده گان مردم تمکین نکند، طرح بودجه را تصویب نمی کند.
در نشست دیروز ولسی جرگه نیز روی مشکلات در سند بودجه و اقدامات حکومت به دنبال رد طرح بودجه بحث شد. شماری از اعضای این جرگه گفتند که حکومت اقارب و نزدیکان آن عده از اعضای جرگه را که در روز رای دهی به مظنور رد بودجه کارت سرخ بلند کرده بودند، برکنار کرده است.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر دوه میلیونه او ۱۴۰زره او ۷۷۳ کسانو ته ورسېد




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۹میلیونه او ۸۵۸ زره او ۵۳۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۱۴۰زره او ۷۷۳ کسان مړه شوي او نږدې ۷۲ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۵ میلیونه او ۷۰۵ زره او ۲۹۹ ته رسېدلي او ۴۲۹ زره او ۵۱۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ٦٧٢ زره او ۳۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۸۴۴ زره او شپږ سوه مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او۷۳۸زره او ٦٩٠ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د درې میلیونه او ٦٤٧ زره او ۴٦۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ملګري ملتونه: ټول کارکوونکي دې په پاکستاني الوتکو کې له سفر کولو ډډه وکړي

ملګرو ملتونو خپلو کارکوونکو ته خبرداری ورکړی، چې په پاکستان کې د راجستر شویو هوایي شرکتونو په الوتکو کې دې سفرونه نه کوي.
دا خبرداری په داسې حال کې ورکول کېږي، چې اندېښنې شته د پاکستان د هوایي شرکت ځینې پیلوټان ښایي د الوتنو پر شرایطو برابر نه وي.
د ملګرو ملتونو د امنیتي مدیریت اداري په هغه یادښت کې چې د پاکستاني رسنیو ته یې هم یوه کاپي په لاس ورغلي ویلي: «د پیلوټانو د مشکوکو جوازونو په اړه د رواني خبړنې له کبله په پاکستان کې راجستر شویو الوتکو کې د سفر لپاره د احتیاط سپارښتنه کېږي.» دا لا معلومه نه ده چې ملګرو ملتونو دغه اطلاعیه کله خپلو کارکوونکو ته خپره کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې پاکستان د تېر میلادي کال په جون میاشت کې اعلان وکړ، چې د ٢٦٢ پیلوټانو دندې یې تر پلټنې وروسته ځنډولې دي.
دا پرېکړه د تېر کال په مې میاشت کې د یوې الوتکې تر نسکورېدو وروسته وشوه، چې په نتیجه کې یې ۹۷ کسان مړه شول. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په پرله پسې توګه د پاکستاني الوتکو د نسکورېدو پېښو د دغه هېواد د هوایي شرکتونو په اړه اندېښنې ډېرې کړې دي.

## ژونــــد

## د بریا لپاره جرئت اړین دی



د ژوند په ټولو چارو کې له کورنۍ نیولې بیا تر هغو چارو پورې چې هغه له کور او کورنۍ بېرون تر سره کېږي، شجاعت، جرئت او زړورتیا یوه حتمي او ضروري ورتیا ده. تاسو به هېڅ داسې بې زړه او شرمګیره کس پیدا نه کړئ، چې ځان یې د بریا لوړو ځوکو ته رسولی وي. زړور کسان له خپل همدې مهارت څخه په ګټې اخیستنې توانېدلي، چې ځان بریا ته ورسوي او خپلې هیلې په واقعیت بدلې کړي. په یاد مو وي چې جرئت؛ له حماقت، بې ادبۍ او بې نزاکتۍ سره کاملاً توپیر لري. هغه کسان چې په منطقي ډول د ژوند په بېلابېلو شرایطو کې له ځان څخه ننګه کوي او د خلکو د ناسمو غوښتنو په مقابل کې د «نه» ویلو ورتیا لري، هغوی ته زړور او با جرئته کسان وایي. دغه کسان له ځان څخه د دفاع پر مهال داسې چلن کوي، چې د نورو حق نه تر پښو لاندې کوي او په عین حال کې هغوی ته هم اجازه نه ورکوي چې په حق یې تېری وکړي.

## د ګلکسي اېس۲۱ او اېس۲۱ پلس رسمي بیه او ځانګړنې

سامسُنګ کمپنۍ په روانه میاشت کې د یوې رسمي غونډې له لارې د ۲۰۲۱ کال لپاره خپل پیاوړي ځیرک موبایلونه معرفي کړل. دوه له دغو ځیرکو موبایلونو څخه ګلکسي اېس۲۱ او ګلکسي اېس۲۱ پلس دي. د دغو دواړو ځیرکو موبایلونو بیه د تېر کال ګلکسي اېس۲۰ په پرتله ټیټه ده. له دې سربېره، دا د سامسُنګ کمپنۍ لومړني ځیرک موبایلونه دي چې له چارجر پرته خرڅلاو ته وړاندې کېږي. له همدې امله سامسُنګ کمپنۍ خپل د ۲۵ واټ چارجر بیه له ۳۵ امریکایي ډالرو څخه ۲۰ ډالرو ته ټیټه کړې ده. ګلکسي اېس۲۱ کې ٦,۲ او ګلکسي اېس۲۱ پلس کې ٦,۷ انچه مخپاڼه ورکړل شوې چې ۱۲۰ هرټز




ریفرېش رېټ څخه د ملاتړ ورتیا لري. دواړو ځیرکو موبایلونو کې د ګوتې نښې سېنسر د مخپاڼې لاندې ورکړل شوی او د تېر کال په پرتله ۷۰٪ غټ دی. د ګلکسي اېس۲۱ بیه له ۸۰۰ امریکایي ډالرو څخه او د ګلکسي اېس۲۱ پلس بیه له ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو څخه پیلېږي او د تېر کال ګلکسي اېس۲۰ او ګلکسي اېس۲۰ پلس څخه ۲۰۰ امریکایي ډالره ارزانه ده.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

1515 www.azizibank.af

عزیزي بانک
Azizi Bank